## د ټاکنو د خپلواک کمیسیون پریکړه

| | |
|---|---|
| د پریکړې شمیره: | ۱۰- ۱۳۸۹ |
| موضوع: | د رسنیو د کمیسیون د غړو اوصاف، د ولسي جرګې د کاندیدانو د نوم لیکنې په پړاو کې د ولسي جرګې د کاندیدانو د عدم مسؤلیت په اړه د ملي امنیت څخه د معلوماتو غوښتل، د ولسي جرګې کاندیدانو لپاره تمویل شوي اعلانونه، د انتصابي سناتورانو استعفاء او یا نه استعفاء چې د ولسي جرګې ټاکنو لپاره خپل ځان نوموي او په هیواد کې د نوم لیکنې د پروسې د تمدید په اړه بحث |
| مرجع: | د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د دارالانشاء ریاست |
| وخت، نیټه او د ملاقات ځای: | د ۱۳۸۹ هـ ل کال د غویي ۴، چې د ۲۰۱۰ زیږدیز کال د اپریل له ۲۴ نېټې سره سمون لري. د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر. |
| حاضرغړي : | ښاغلی فضل احمد معنوي ، ښاغلی ستر جنرال محمد ایوب اصیل ، آغلې مومنه یاري ، آغلې مستوره ستانیکزی، ، ښاغلی پوهاند محمد حسین گرزیواني، ښاغلی قاضي سلیمان حامد او ښاغلی عبدالخالق حسیني پشه ئي . |

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د اساسي قانون د ۱۵۶ مادې پربنسټ،

**د ټاکنو خپلواک کمیسیون د غونډې د اجنډا د موضوعاتو په اړه لاندې پریکړې وکړې:**

1. د رسنیو د کمیسیون د غړو د دندو لایحه چې له دغه پریکړه لیک سره ضمیمه کړل شویده تایید او تصدیق ده.
2. د غیر قانوني وسله والو ډلو د مشري او یا په وسله والو ډلو کې دکاندیدانو د غړیتوب د څېړلو مؤظف کمیسیون د ولسي جرګې د ټاکنو د کاندیدانو په اړه معلومات به د امنیت ملي له عمومي ریاست او نورو اړوند ارګانونو سره شریکوي او د ملي امنیت عمومي ریاست به په څارګرو شبکو، ترهګرو بانډونو او ویره اچونکو ګروپونو سره د ولسي جرګې د کاندیدانو د تړاو او یا نه تړاو د تثبیت په اړه له مؤظف کمیسیون سره مرسته کوي.
3. د ولسي جرګې د کاندیدانو لپاره تمویل شوي اعلانونه د یو منظم میکانیزم په چوکاټ کې بایدترتیب او د اجرا وړ وګرځي.
4. څرنګه چې د مشرانو جرګې دوه پر دریمه برخه غړي انتخابي دي نو ځکه د مشرانو جرګې هر غړی چې د روان کال د ولسي جرګې په ټاکنو کې ځان نوموي باید ولسي جرګې ته د ځان نوملو څخه مخکې رسماً استعفا ورکړي.
5. د ولسي جرګې د کاندیدانو د نوم لیکنې موده د غویي د ۸ نیټې د تصادف له کبله چې په ټول هیواد کې رسمي رخصت وي یوه ورځ نوره هم د غویي تر ۱۵ نیټې پورې باید وغځول شي.